**بسم الله الرحمن الرحيم**

# پوښتنې ته ځواب

## د هغو فلمونو کتل او رول پکې لوبول څه حکم لري، چې د پیغمبرانو او صحابه وو تمثیل پکې شوی وي؟

**ابو عافیه بقوي ته!**

(ژباړه)

**پوښتنه**

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته اې شیخه!

د هغو فلمونو او سریالونو کتل او رول پکې لوبول څه حکم لري، چې د پیغمبرانو علیهم السلام او صحابه وو تمثیل پکې شوی وي؟

**ځواب**

وعلیکم السلام و رحمت الله و برکاته!

فلمونه او سریالونه په اوسنۍ بڼه د شریعت له نظره روا نه دي. په دغو فلمونو کې دروغ او اختلاط شته دی او عورت پکښې نه پټېږي. پردي (نامحرم) کسان د مېړونو او محرمو خلکو رولونه لوبوي او بیا دغو سړیو ته د ښځو عورتونه ور بربنډېږي. له همدې امله د شریعت احکام یو پر بل پسې تر پښو لاندې کېږي؛ ځکه خو دا فلمونه او سریالونه د شریعت له نظره په همدغه دلیل ناروا دي، چې شرعي احکام پکې تر پښو لاندې شوي دي. تر دې لویه گناه بیا دا ده، چې یو کس راځي او د صحابه وو رول ادا کوي او تر دې ناوړه بیا دا ده، چې یو عادي کس د پیغمبرانو علیه سلام رول تمثیلوي، پرته له دې چې له الله سبحانه وتعالی څخه وشرمېږي یا وډار شي.

موږ د دغې موضوع په اړه وړاندې هم د ۲۰۰۹م کال د سپتمبر په ۲۳مه یوې پوښتنې ته ځواب ویلی و، همغه ځواب یو ځل بیا دلته راوړو:

«د تمثیل او سریالونو په اړه؛ په دغو کې د شریعت گڼ احکام تر پښو لاندې کېږي:

الف: په دغو فلمونو کې دروغ ویل کېږي، ځکه یو شخص د بل شخص پېښې (تمثیل) کوي او د هغه کس خبرې په خپله وایي چې دی یې تمثیل کوي. که چېرې له ممثل څخه غوښتنه وشي چې قسم وکړي، دی حتا قسم هم کوي، هغه کس قسم کړی چې دی یې رول ادا کوي. پر دې سربېره که چېرې هغه کس چې دی یې تمثیل کوي، د طلاق الفاظ کارولي وي، ممثل هم د طلاق الفاظ بیانوي. د طلاق په برخه کې د یوه کس غلط بیان او ټوکې کول رښتیا ګڼل کېږي؛ یعنې په طلاق کې ټوکې نشته.

ب: اختلاط پکې راځي، ځکه نارینه او ښځې له شرعي اړتیا پرته ګډ سره اوسېږي.

ج: عورت پکې بربنډېږي، ځکه پردی (نامحرم) کس د مېړه او محرماتو رول لوبوي. ښځو ته ویل کېږي چې حجاب ونه کړي، په داسې حال کې چې د نامحرم پر وړاندې باید حجاب مراعت شي. پر عورت سر بېره د سړي او ښځې تر منځ چې د مېړه او محرم رول لوبوي، نورې اړیکې هم شته او دا په خپل ذات کې یوه بله ستونزه ده.

شریعت د دغو سترو سرغړوونکو هر څه روښانه کړي دي او تر دې لویه سرغړونه بیا هغه مهال ترسره کېږي، کله چې د پیغمبرانو علیه سلام تمثیل وکړي؛ ځکه پیغمبران په ځانګړي ډول د الله سبحانه وتعالی لخوا د پیغمبر او رسول په توګه غوره کېږي او مکلفیت یې یوازې په همدغه پیغمبر پورې تړاو لري، نه بل کس پورې. نو کله چې یو عادي کس د پیغمبر او رسول رول تمثیلوي، دا د الله سبحانه وتعالی له پیغام څخه یو ښکاره سرغړاوی دی. په دې سره مونږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د هغه په حق ورکولو او د الله سبحانه وتعالی پیغام ته په ارزښت ورکولو کې پاتې راځو او دا د رسول صلی الله علیه وسلم او پیغام پر وړاندې یوه لویه بې انصافي ده. په دغه ډګر کې له شریعت څخه ګڼې نورې سرغړونې هم کېږي او هغه پردي سړي او پردۍ ښځې دي، چې په یوه ګډ چاپېریال کې د یوې اړیکې پر بنسټ تمثیل کوي او داسې نور....

له همدې امله دا سریالونه او ډرامې جواز نه لري.

په دې اړه به په راتلونکي کې د خلافت دریځ دا وي، چې دا ډول تمثیل او سریالونو ته به اجازه ورنه کړي، خو دا چې څنګه او له دغه ډول تمثیلونو سره به څه ډول چلند کېږي، دې ته به بیا همغه وخت وضاحت ورکړل شي، ان شاءالله.» (۲۳/۰۹/۲۰۰۹). هیله لرم چې ستاسو د پوښتنې د ځواب لپاره به همدومره بس وي او الله سبحانه وتعالی تر ټولو خبیر او علیم ذات دی.

یادونه:

ځینو خویندو او ورونو د همدغې موضوع په اړه خپل نظرونه ورکړي وو او زیاته کړې یې وه، چې دا ځواب یوازې د تمثیل د حکم په اړه و او د دغو فلمونو د کتلو په اړه پکې څه نه وو، خو زه دوی ته وایم: ما یوازې له پوښتنې

سره سم د تمثیل کولو حرمت بیان کړ، یعنې د پیغمبرانو او صحابه وو د رول تمثیل او ومې وویل، چې دا روا عمل نه دی او کله چې دولت رامنځته شي، مخه به یې ونیسي. ما یې د کتلو یا لیدلو په اړه څه نه دي ویلي او دا موضوع مې پوښتوونکو ته پرېښوده، ترڅو دوی یې په اړه اجتهاد وکړي. یا دغه موضوع له یوه بل مجتهد سره شریکه کړئ، چې پر اجتهاد یې باور لرئ.

په دې هیله چې موضوع روښانه شوې وي.

**ستاسې ورور،**

**عطا بن خلیل ابو الرشته.**

**۱۴۴۱هـ.ق، کال د ربیع الثاني ۲۸مه**

**۲۰۱۹م، کال د ډسمبر ۲۵مه**